زړاکتیر لمر ۲۰۱۲/۰۸/۰۶

# د اشخاصو پټه ځینه یا د بربښنا پانو بربنده شننه

درنو هېوادوالو! دغه څو ورځې کېږي، چې په رسنیو کې د (BBC) تر نامه لاندې د (BBC) د افغان الاصله په یو شمېر ژورنالیستانو یا چاروکو د ژبنې یا بربښنایي ترور اخوډب روان دی، چې د دغه غوبل پایله به څه وي، نو یو پاک الله پوهېږي. په یو شمېر لیکنو کې حتی د یوېي نامتو کورنی ټول غړي په یو او یا هم بل نامه په سپینو سترګو ځپل شوي دي. په بله لیکنه کې داسې تحلیلونه ورکړل شوي دي، چې پلانکې د ژورنالیزم ځلی دی او بیستانکی بیا د احماقت کلی!

ټوله خبره په (BBC) پښتو بربښناپانه راتاویږي، چې ګرمه یې د یو شمېر لوڅو عکسونو خپرېدنه ده. ریښتیا هم په دې کې شک نشته، چې د پښتو په پانه کې د(BBC) نورو ژبو (عربي، فارسي، اوردو او بي بي سي ناظر) د بربښنا پانو په پرتله په پښتو پانه کې یو څو لوڅ انځورونه د پاڼې په سکرین یا ښیښه سمدلاسه ښکارېدل، چې بیا لیرې شول یا دا چې د بلې ورځې د پېښو تر وربځ لاندې شول او په بربښنا پانه نوې ځپه خپره شوه. اما اندېښنه دا ده، چې آیا دغه پېښه د دې وړ وه یا ده، چې په اشخاصو تیری وشي او د یو چا ترڅنګ د هغه د ټولې کورنی نوم نبغ یا په غیر مستقیم ډول په سپکه یاد شي، بنه ویل شوي چې کله خلک دومره سپک شي، چې خپله لمن پخپله پورته کړي. مګر نه مو دي آورېدلي، چې که سترګي مو په ګنګګار شي ولګېدې، نو سترګي مو واړوی، چې بیا پرې ونه لګېږي، مګر نه دا چې په ځیرتیا ورته ګونډې ووهی او لکه په لمڅي کې چې په سپږه پسې خې شې!

په یو شمېر لیکنو کې داسې څرګندوني هم شوې دي، چې د نجونو د فجرونو سوړې د رېتاړو تر کټ ښکاري او نورې لیکنې بیا داسې څرګندونې کوي، چې د ځان دا برخه یا هغه برخه یې پښې نه بلکې بل څه نومېږي! مګر زما اندېښنه دا ده، چې دوی د نجونو لمونو ته کتل، د نېکرونو کچه یې واخیستله او د غولانځو اندازه یې هم ځانته روښانه کړه، چې د خپلې لیکنې ذهنې شالید پرې جوړ کړي، مګر ګرم بیا هغه څوک دی، چې دغه انځورونه یې خپاره کړي دي او یا هم تصادفي له نورو پانو سره لینک شوي دي.

تاسو ټولو ته څرګنده ده، چې په سلهاوو څه چې په زرهاوو پاڼې د افغانستان په اړه معلومات په پښتو، فارسي او ګنشمېر نورو ژبو خپروي او یو شمېر بربښنا پانې ناپېیلې افغاني پاڼې هم دي، نو د انتخاب حق هر څوک لري، مګر دغه چشم چرانه قاریان او که ملایان څه اړ ول، چې معلومات حتمي په (BBC) کې وګوري او سترګې یې په لوڅو لمونو، د نجونو د پښو د کټ په سوړو او یا د ریتاړو تر منځ په سپینو، تورو او یا سرو فجرونو ولګېږي. د دقیق معلومات لپاره په ډېرو برخو کې حتی (BBC) هم خپل اخبار له پژواکه اخلي، نو دا پلمه هم ماته یا بل ته کولی شي، مګر خپل وجدان او پاک الله ته به څه وایي!

ما یو ځل آورېدلي ول، چې دوه تنه درویشان په مزل چېرې تلل، نو مخې ته یې یو لوی رود راغئ، چې یوه مېرمن یې په ساحل کې درېدلې وه او له وېرې له اوبو نه شوی تېرېدلی، نو له دغو درویشانو یو ورنېژدې شو او دغه مېرمن یې په غېږ کې ونیوله او له راده یې تېره کړه، بیا یې هملته پر ځمکه کېنوله او دی ترې روان شوو. په لاره یې پخپل ملګري څو ځله غږ وکړ، مګر هغه د مزل تر پایه خبرې ورسره ونه کړې او له ځانه سره بورنېدلو! کله چې درویشان خپل مقصدګاه ته ورسېدل، دغه مهال دغه یو درویش بیا ترې وپوښتل، چې هې د لارې مله! ولې راته کرجن یې او خبرې راسره نه کوې؟ نو لومړي درویش ورغبرګه کړه، چې تا عظیمه ګناه وکړه، ځکه چې هغه نا محرمه میرمن دې په غېږ کې ونیوله او له راده دې تېره کړه! لومړي درویش ورته وویل، چې ما خو هغه یوازې له راده تېره کړه، مګر ستا ذهن خو تراوسه هم د هغه ښځې په اړه مشغول او مشکوک دی، نو لوی ګنګګار ته یې او که زه!


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

رابه شم د دغو لیکنو د افغانانو ذهنیت ته. لومړی باید دا په ګوته شي، چي په یوه ځانګه کي چي یو څوک ډیپلوم یا ډېګري واخلي، نو د هغه ځانګي کدر ګڼل کېږي او د لسانس، ماستري او یا هم د ډاکټر تر کچي تحصیل کوي، خو دا بیا حتمي نه ده، چي یو ډاکټر دې هرومرو یو ښه منیجر یا اداره چي هم وي! او یا دا چي ښه منیجر دي هرومرو یو ښه څېړونکی او یا مسلکي ځانګپوه ډاکټر هم شي، نو همغه خبره، چي کار به اهل کار!

یو شمېر افغانان تل په یوه پلمه پسي ګرځي، چي په څه ډول خپله د زړه غوټه پر بل خلاصه کړي، نو په هر چا چي پېښ شول، نو د سرو او شنو ټاپه پرې کېږدي او یا یې له ذهني چیلواصافه وباسي. په دغو لیکنو کي دا سي یاده شوې، چي افغانان مسلمانان دي او اسلامي کولتور لري، ځکه نو باید په برېښنا پاڼو کي د فحشا انځورونه او یا معلومات خپاره نه شي. بل ځای بیا دا لیکل شوي، چي یو چا ویلي، چي زه په انګلستان کي ژوند کوم، نو د انګرېزانو ارزښتونو ته درنښت کوم او دلته یې ښځې، دلته یې خورم او همدلته یې پالم! د یو شمېر خلکو نومونه یې هم کتار کړي، چي ګواکي د (BBC) د پښتو له ځانګي یا تللي دي او یا یې هم له پوهي سره سم کار نه دی ورکړل شوی!

درنو دوستانو! غربي، څه چي د نړۍ په ډېرو هېوادونو کي اصول شته او خلک اصولو ته ژمن دي، مګر په افغانستان کي څه روان دي، نو ټوله نړۍ ورته ګوته په غاښ ګوري، ځکه نه یې سر معلوم دی او نه یې هم بر! دا زه منم، چي په افغانستان کي یو څوک د اړیکو، ډلي، ټپلي، اشخاصو، زورواکو او یا لوړپوړو چارواکو په خوښه، یا په غوړه مالي او یا هم د کوم بهرني ملک د استخباراتي سازمان په نغوته یا مقررېږي، یا رټل کېږي او یا هم ترۍ تام کېږي! نو دغه ډول کار به په نورو ملکونو کي وي، خو د ټولو څېړنو پر بنسټ افغانستان د اداري او اخلاقي فساد په سر کي درېدلی.

په هېواد کي له ماښامه او که ښه ووایم ټوله ورځ ګنشمېر کورنۍ هندوستاني ډرامو ته، چي د اخلاقي فساد ځالي دي، په ځیر ناستي وي، چي د افغان اسلامي ذهنیت سره سم بیا د ښځینو یا نجونو په لوڅو غړیو، غولانځو، بربنډو لمونو او یا هم پرانیستي چاټونو پرده ورواچوي، نو دغه بې اسلامه مسلمانان فکر کوي، چي کله د ښځو پر دغو برخو پرده ورواچوي، نو د انسانانو پر ذهنونو یې هم پرده خپره کړه، خو خدای پاک هرچاته خپل ځانګړی شعور ورکړی، چي نه د ملا، نه د شیطان او نه هم د بلا وسه پرې رسېږي، ځکه هر انسان په ذات کي خپل خالق ته ځواب ګو دی، نه لکه هغه عالم الدین، چي وایي «د نا محرمي ښځي د بوټونو د غږ اورېدل حرام دي»، ځکه د دغه عالم الدین ذهن په اسلامي ارزښتونو سمبال نه دی، مګر د شیطان په جال کي نا آرامه دی، که نه نو د پښو ټکاری صرف ټکاری دی!

په افغانستان کي یو مهال موږ د اخلاق په نامه یو مضمون لوست، چي انسان ته یې کورني، ټولنیز او اسلامي اداب ورښودل، مګر نن ټولنه په بل ډول شوې ده، هر څه سرپه څنې دي. په وروستیو څو لسیزو کي چا د روسیې د «حزب طراز نوین یا لېنن بزرګ» ببولالي بللي، نورو بیا د صیغه، پیغه او متعي کیسي رابینا کړې وې او نن سبا د ډېموکراسي پټې دسیسي او بربنډه کاني رواني دي. له دغو پېښو سره په ښوونځیو کي داسي کیسي رامنځ ته شوي، چي ذهني شالید یې د روزني او ښووني توګي ته ښودنه کوي.

په ښوونځي کي یو استاد خپلو شاګردانو ته وایي، چي: در اسلام حجاب است. دختر ها باید کالای چسپ نپوشند. برجستګي هایشان معلوم نشود، یعني سینه، پالکون (دومبه) او ران های شان برجسته او اوریان نشود! نو یو شاګرد په ځواب کي ورته ویلي ول، چي: استاد شما درس اخلاق میدهید ویا شوق مارا مېخبزانېد! نو په دغو لیکنو کي هم دغه دریځ غوره شوی، چي د نورو پام هم ورته نور هم ځیر کړي! مګر دغه لیکوال باید پوه شي، چي انټرنېټ ته به سلهاوو یا زرهاوو خلک لاس رسي لري، مګر په ښوونځیو کي تر لسهاوو میلیونونو ماشومان روزل کېږي او افغاني تلویزیونونو ته په میلیونونو  وګړي ناست وي.

په کابل کي په تلویزیونو کي په ویډیویي ښه بربنډې څېرې له تورکیې نیولي بیا تر جاپانه ښودل کېږي. هندوې، ایرانۍ، پېښورۍ، سانه یۍ  او لوېدیزوالي ښځي او نجونه خو د نڅا د محفلونو تلپاتي مېلمني دي او په کورونو کي یې د تلویزیون له لارې د فحشا بټۍ توده ساتلې ده، مګر تر ننه چا یاده نه کړه! د ګنشمېر نجونو تر څنګ د هلکانو نڅا ګاني هم هلته او دلته رواني دي او په افغاني تلویزیونو کي ښودل کېږي هم، مګر ټول پټه خوله دي! د مژده جاني، سیتا جاني، فرزانه جاني سندرو ته خو ټول غومبر وهي او د نورو د لمونو رېږدېدنه او د ورنونو ښورېدنه یې خوښېږي،


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

مگر بیا یوه بهرنۍ برېښنا پاڼه د دې سبب گرځي، چې په افغانستان کې اخلاقو ته صدمه ورسوي، عجیبه د یک بام دو هوا سلسله روانه ده!

تاسو به زما خبرې نه منۍ، مگر یو ځل د نړیوالو څېړنیزو مرکزونو څېړنې ولولۍ او یا یې پاڼو ته سره ورښکاره کړۍ، نو بیا به د خپلو یو شمېر افغانانو په اړه تاسو ته هم پته ولگېږي، چې تر کومه په اخلاقي، بشري او اداري فساد کې نغښتي دي. د اسلام په اړه خو په ټولنه کې د «هر کاره باش با خدا باش!» او د خپلې ټولنیزې اداري یا د دولت په اړه بیا وایي «زېر دېوار سرکار شاش کن که چپه شود!» او د ټولنیز ژوند په اړه بیا وایي، چې «شرې بخېزد که خیر ما باشد»، نو نن سبا یو شمېر لیکوالو یا ماجراجویانو هم دا ډنډوره پیل کړې، چې د (BBC) په برېښنا پاڼه کې څه تېرېږي، مگر په خپل ملک کې یې د اخلاقي، اداري او ټولنیز فساد سرچینو ته بیا پام هم نه دی، ښه ویل شوي، چې خپل عیب د ولي منځ دی.



په یوه برېښنا پاڼه کې دوې مترادفې لیکنې شوې دي، چې په یوه کې د څلورو ښځو ببولاله په یو ډول او په بله کې په بل ډول یاده شوې ده. یو لیکوال ورته شهوتراني ویلي او بل بیا ورته د شریعت پوړنۍ وراغوستی دی او په هر پراگراف کې یادوي، چې دغه د یو نر شرعي حق دی او یوه ښځه یې ارضا نه شي پوره کولی، نو هرومرو باید شریعت پلی کړي یعني څلور ښځې وکړي. مگر زما اندېښنه دا ده، چې ژوند یوازې «خېټه او خوټه ده» او که اشرف المخلوقات له دې پرته په ژوند کې نور مسؤلیتونه هم لري!

له بله پوله په یوه بله پاڼه کې د افغانستان نفوس ۲۶۵۰۰۰۰۰ یعني شپږویشت میلیونه او پنځوس زره ښودلی شوی دی، له ایتنیکي لانجو به یې تېر شم، مگر  د افغان نرینوو شمېر یې ۱۳۶۰۰۰۰۰ او د ښځینوو ۱۲۹۰۰۰۰۰ ښودلی دی، چې له دغه احصایې داسې ښکاري، چې په افغانستان کې حتی د یو نر لپاره یوه مېرمن هم پوره نه رسېږي، نو کله چې هر یو نر څلور ښځې وکړي، نو بیا به د افغانستان د وگړو دیموگرافي څه ډول وي، یعني ۲۵ ٪ به ۴ ښځې کوي او پاتې ۷۵ ٪ به په غشو وختونه تېروي! او یا  دا چې له دغو څلورو به  کومه پرې ورحمېږي او د خدای په جت به یې یو وار تنده ورماتوي او یا کله کله! ما دلته د کنیزو شمېر نه دی ورکړی، نو هغه خو هسې هم د بادار شرعي حق دی، نو زما وړاندیز تش په نامه شریعت پالو ته دا دی، چې خپلې خوېندې په بنو ورکړي او که شتمن نه وي، نو د کوم شتمن په کنیزي دې بسنه وکړي او که نه اوس خو صیغه او متعه هم رواج شوې ده. رښتیا باید دا هم یاده کړم، چې زه شریعت حق گڼم، چې حدود یې باید له الهي حکم سره د ټولنې د اصلاح لپاره جاري شي، مگر نه دا چې شتمن، زورواکان او د دین دوښمنان د څلورو ښځو په پلمه د خپلو هوسونو پیلامه جوړه کړي.

ټولو ته څرگنده ده، چې د روژې مقدسه میاشت په دوراني بڼه د کال په بېلابېلو مودو کې راځي او تېرېږي. مگر یو شمېر مسلمانان بیا وایي، چې یوازې د روژې میاشت باید عبادت ته غوره شي او له هر ډول گناه ډډه وشي، خو خدای پاک په ټولو اسلام د ټولې مودې لپاره نازل کړی دی، نو د اخلاقو ټولې بنې باید د ژوند په اوږدو کې په پام کې ونیول شي، نه دا چې روژه مو تېره کړه بیا نو بیرته په اخلاقي فساد کې ښکېل شو، خو د معلومات لپاره باید هر شي ته وکتل شي، معلومات ولوستل شي، چې  یو څه ترې زده شي، څکه یې له لقمان حکیمه وپوښتل، چې ادب دې له چا زده کړ، نو لقمان حکیم ورته وویل له بې ادبانو! په دې هیله، چې له دغو څو کرښو، یو شمېر زړه بوږنونکو انځورونو او دغه له فساده ډک او له اخلاقه لیرې فلمونو نه یو څه زده کړی.

پایله


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

درنو لوستونکو! د ستوغو الفاظو د کارولو په اړه معذرت غواړم، مګر د دا ډول لیکنو ځواب په بل ډول نشي تر سره کېدلی، نو ځکه مې په دغه الفاظو مسایل وسپړل او تاسو ته مې وړاندې کړل. دغه د (BBC) پېښه بیا دې ته ښودنه کوي، چې یو شمېر لیکوال د ماجراجویي په موخه له دا ډول ناځاېو پېښو نه نا مشروع ګټه پورته کوي، پر نورو نیوکې کوي او په دې پلمه یو او یابل ځپې، چې په ټولنه کې یې سیمه ییز خنډونه او په افغانانو کې د بېلنتوب ډنډونه رامنځ ته کړي دي. مګر افغاني بريښنا پاڼې هم باید خپل انساني، وجداني او مسلکي مسؤلیت پر ځای کړي، نه دا چې له برېښنا پاڼو د انیو د غیبت کوډله جوړه کړي!

یادونه: درنو هېوادوالو په دغه لیکنه کې یو شمېر داسې فلمونه ځانګړي شوي دي، چې په هغوی کې داسې پېښې ښودل شوې دي چې د هېڅ پاک نفسه انسان د زغملو وړ نه دي، مګر له بده مرغه دغه ډول فلمونه چې په سیمه کې د ډېرو بدو پېښو څرګندونه کوي، جوړېږي او په نړیوال کچه په ټولیزو رسنیو کې خپرېږي. نو په دغه لیکنه کې هم د دغه فلمونو ټاکنه ځکه شوې چې په سیمه کې د اخلاقي فساد جرړو ته ښودنه کوي. د روژې میاشتې په احترام که نه غواړئ دغه فلمونه مه ګورئ اما د هغوی په اړه تاسي ته مالومات اړین دي.

http://www.youtube.com/watch?v=dnvoBxXDus4

http://www.youtube.com/watch?v=nRz3Z_kTuTk

http://www.youtube.com/watch?v=oZu4fPdpxXo&feature=related

http://www.youtube.com/watch?v=wHCJPmG0o0A&feature=related

وسلام